# د افغانستان اسلامي امارت

# د ازموينو ملي اداره

## د پاکستان هېواد څخه د جبري اخراج شويو افغان کډوالو د ډلييزو ازموينو اخيستلو کړنلاره

کال:۱۴۰۲ هـ ش/۱۴۴۵هـ ق

**بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين وعلى آله واصحابه اجمعين.**

## لومړی څپرکی

## عمومیات

**بنسټ**

**لومړی ماده:**

دا کړنلاره د د رئیس الوزراء د عالي مقام د ۱۴۴۵/۵/۸ نېټې د (۲۳۸۶) ګڼه حکم په اساس وضعه شوي ده.

**موخه**

**دویمه ماده:**

ددې کړنلارې موخه د پاکستان هېواد څخه جبري اخراج شویو افغان کډوالو لاسنیوی کول دي.

**اصطلاحات**

**درېیمه ماده:**

1- **ډلبیزه ازموینه:** هغه رقابتي پروسه ده چې پر شرایطو برابر نوماندانو څخه لوړو او نیمه لوړو زده کړو، د علمي سوې تثبیت، ملکي خدمتونو، نظامي او نورو امارتي او خصوصي بنستونو ته د شاملېدو لپاره په تولیز ډول اخیستل کیږي.

2- **حق‌الشمول:** هغه مالي وجه ده چې د نوماندانو څخه په ازموینه کې د شمولیت په مقابل کې اخیستل کیږي او د اداري د عوایدو په عنوان د امارت حساب ته جمع کیږي.

3- **نوماند:** هغه حقیقي شخص دی چې په ډلبیزو ازموینو کې د رقابت په موخه ګډون کوي.

**د تطبیق ساحه**

**څلورمه ماده:**

دا کړنلاره یوازې په هغو واجد شرایط نوماندانو د تطبیق وړ ده چې د پاکستان هېواد څخه په جبري توګه اخراج شوي دي.

تطبيقوونکي مراجع

**پنځمه ماده:**

دا کړنلاره د ازموينو ملي اداري او نورو ذيدخل بنسټونو لخوا تطبيق کيږي.

## دويم څپرکی

## مکلفيتونه او ممانعتونه

د ازموينو ملي اداري مکلفيت

**شپږمه ماده:**

د ازموينو ملي اداره مکلفه ده د افغان کډوالو د نوم ليکنې لپاره خانګړي فورمه ډيزاين کړي.

د ازموينو ملي اداري ممانعت

**اوومه ماده:**

د ا زموينو ملي اداره نه شي کولای چې د افغان کډوالو واجد شرايط نوماندانو څخه د پليزو ازموينو حق الشمول واخلي.

د نوماند مکلفيتونه

**اتمه ماده:**

د پليزو ازموينو نوماند د لاندې مکلفيتونو لورنکی دی:

1. نوماند به د ازموينو ملي اداري ټول قوانين،مقررات،لايحې، کړنلارې او اصول مراعاتوي.
2. نوماند به د ازموينو ملي اداري لخوا د نوم ليکنې ډيزاين شوي خانګړي فورمه په صحيح ډول ډکوي.
3. نوماند به خپل تعليمي او تحصيلي اسناد د اړوندو تعليمي او تحصيلي مراکزو څخه تائيدوي.
4. نوماند به د نوم ليکنې خانګړي فورمه د مهاجرت د تثبيت په موخه د مهاجرينو او بېرته راستنيدونکو وزارت يا د اړوند وزارت د ولايتي واحد څخه تائيدوي.
5. نوماند د پليزو ازموينو د نورو مکلفيتونو ترڅنګ د هغو کړنو په ترسره کولو مکلف دی چې د ازموينوملي اداري لخوا يې سپارښتنه کيږي.

## دریم څپرکی

## متفرقه حکمونه

**د ازموینې د صحنې مسؤل اشخاص**

**لسمه ماده:**

1. د ازموینې صحنې مسؤلیت د ازموینو ملي اداري لخوا مؤظف شویو ښځینه علمي او کادري غړو په غاړه دی.
2. د همدې مادې په اول بند کې درج علمي او کادري غړو پرته هیڅ غیر مسؤل اشخاص د ازموینې صحنې ته د داخلیدلو حق نلري.

**د ازموینې صحنې ته د ذکورو داخلیدلو منع**

**یوولسمه ماده:**

د ازموینو ملي اداري او نورو ذیدخلو بنسټونو هیڅ ذکور کارکوونکي نه شي کولای چې د ازموینې صحنې ته داخل شي.

**تعدیل،الغاء**

**دولسمه ماده:**

په دې کړنلاره کې تعدیلات راوستل او الغاء د ازموینې ملي اداري د مقام صلاحیت دی.

**انفاذ**

**دیارلسمه ماده:**

دا کړنلاره د درې څپرکو او (۱۳) مادو لرونکې ده چې د ازموینو ملي اداري مقام له توشیح سره سم نافذه ده.

پورتنی کړنلاره د ازموینو ملي اداري رهبري شورا کې د ( ۵ ) پروتوکول نمبر په اساس په ( ۱۴۴۰،۵،۱۸ ) نېټه تصویب او د اداري د مقام لخوا په ( ۱۴۴۰،۵، ۲۰ ) نېټه توشیح شوه.

**د ذیدخل بنسټونو مکلفیت**

**نهمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د ازموینو ملي اداره د ذیدخل بنسټونو سره هوکړه لیکونه ولري یاد بنسټونه به د واجد شرایط نوماند کډوالو د نوم لیکنې فورمونه او جدول په جدا ډول د ازموینو ملي اداري ته سپاري.

**د نوماند ممانعتونه**

**لسمه ماده:**

نوماند د ټولو هغو کړنو د ترسره کولو څخه منع شوی چې د ترسره کول یې د ډلبیزو ازموینه پروسه کې تخلفات شمیرل کیږي.

## دریم څپرکی

## متفرقه حکمونه

**د اسنادو تائیدي**

**یوولسمه ماده:**

د تعلیمي او تحصیلي اسنادو تایئدي په اړوند تعلیمي او تحصیلي بنسټونو پورې اړه لري، د ازموینو ملي اداره یې مسؤلیت نه لري.

**حاکم قواعد**

**دولسمه ماده:**

واجد شرایط نوماند کډوال د معمول مطابق په عام ډول ازموینو کې ګډون کولای شي او ټول نافذه تقنیني اسناد پرې د تطبیق وړ دي.

**تعدیل،الغاء**

**دیارلسمه ماده:**

په دې کړنلاره کې تعدیلات راوستل او الغاء د ازمویني ملي اداري د مقام صلاحیت دی.

## انفاذ

**څوارلسمه ماده:**

دا کړنلاره د درې څپرکو او (۱۴) مادو لرونکې ده چې د ازموینو ملي اداري مقام له توشیح سره سمه نافذه ده.

پورتنی کړنلاره د ازموینو ملي اداري رهبري شورا کې د ( ۵ ) پروتوکول نمبر په اساس په ( ۱۴۴۰,۵,۱۸ ) نېټه تصویب او د اداري د مقام لخوا په ( ۱۴۴۰,۵,۲۰ ) نېټه توشیح شوه.